# د يوې ښوونکې مينه په يوه ټولګي کې

ليکوال:
ډاکتر مهندس حشمت الله اتمر
وږی - مياشت / کال ۱۴۰۳

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګې کې
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پخښتې ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** وږي میاشت / کال ۱۴۰۳
**واتس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړليک

**سرليک** **چوپړی**

**پخښتۍ............................................................................... ١**
**بسم الله الرحمن الرحيم ...................................................... ٢**
**ليکي پوهه:........................................................................ ٣**
**لړليک ................................................................................ ٤**
**تراڼ (پيل، شروع، بريد)....................................................... ٥**
**د يادښتونو له پاره:............................................................... ٧**
**نا اندوله (ناول، کېسه يا داستان) .......................................... ٨**
**د چاپ شويو کتابونو لېست................................................... ٥٣**
**د کار لاندې کتابونو لېست ................................................... ٥٦**
**د امکان او وخت په صورت کې............................................. ٥٧**
**د پختۍ څټ ......................................................................... ٥٨**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګې کې

.....................................................................

**ترانۍ (پیل، شروع، برید)**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات یو هه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل حقیقی داستان یا ناول چې کیسه یې د افغانستان په پلازمینې (کابل ښار) کې تېره شوې ده د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره شریکه کړم. زما د کتابونو مېنه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې څانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښوونکې مینان په یوه ټولګي کې
.....................................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- دا کیسه ماته نږدې او ګران ملګري مې (محترم) ج ،ح کړې ده.
- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښوونکې مینان په یوه ټولګې کې

.....................................................................

## د یادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ..........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

.......................................................................

**نا انډوله (ناول، کېسه يا داستان)**

د ۱۳۸۷ هجري شمسي کال و، په دې کال کې يوه ښکلې نجلۍ د انګريزۍ ژبې په ټوګه د کابل ښار په يوه ښونځي کې دنده تر لاسه کړه (مقرره شوه)، د دې درسونه د لسم او يولسم ټولګيو زده کونکو له پاره د ښونځي د ادارې له خوا وټاکل شول، په عمومي مهالوېش (تقسيم اوقات) کې ځای پر ځای او په مناسب ځای کې وزړول شو.

هغې په ډېره مينه خپل تدريس (درسونه) پيل کړ او ورځ تر بلې به يې نوي پلانونه جوړول تر څو زده کوونکي نړيواله انګرېزۍ ژبه په ښه توګه زده کړي او د فراغت نه وروسته ترې ګټه واخلي.

هغې به داسې چلونونو، (ميتودونو) او خندا يې کار اخيست ترڅو د زده کونکو پام را جلب کړي، هغوی و هڅوي تر څو زيار وباسي، خپلې کورنۍ دندې تر سره کړی او د دې په مضمون کې غير حاضري و نه کړي.

ښونکې په ونه منځنۍ (ميانه) غنم رنګه، تورې سترګې، چټکه، هوښياره، پيغله، د پنځه ويشتو کالو او د انګرېزۍ د ادبياتو څانګې نه د ليسانس په کچه فارغه شوي وه.

د هغې زده کونکو به، په خورا مينه ټولګي ته راتلل، د هغې د درس په وخت کې به ټول ارامه او دهغې د ژبې تلفظ ته به يې غوږ نيولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

....................................................................

وختونه تېرېدل او درسونه مخ ته تلل، لمړی د څلورنیمو میاشتو امتحان تېر شو، نتیجه یې خورا ښه او زده کونکي ټول کامیابه، ښې او لوړې نمرې یې تر لاسه کړې وې، له یوې خوا ښونکې او له بلې خوا زده کونکي هم خوشحاله ول.

تعلیمي کال د نصاب سره، سر ته ورسېد او کلنی امتحان ورسېد، زده کونکو ورته ښه چمتو والې نیولی و، ښونکې کوښښ کړی و تر څو د بیلا بیلو ګروپونو سوالونه په ښه او واضیحه توګه راوړي، چې په کې صحیح - غلط، څلو ځوابه سوالونه، د لغتونو مانا، د لغتونو استعمال په جملو او په پای کې لنډه مقاله هم شامله وه.

دې دا سوالونه د خپل ټولو ټولګیوته په توپیر سره راوړل او زده کونکو هم په خورا سمه توګه حل او ځوابونه یې ولیکل، په کلني امتحان کې هم ټول زده کونکي کامیابه او د لسم ټولګي نه یولسم ټولګي ته وختل (پورته شول).

ژمي ورسېد او د زده کونکو ژمنۍ رخصتۍ پیل شوې، زده کونکي د ژمي رخصتیو په تېرولو سره خپلو سیمو ته لاړل او د کابل ښار او سېدونکي هم د ژمي رخصتیو تېرولو سره په ژمني کورسونو او د فراغت په وختو نو کې د لوبو لګه:
په ګډي پران بازي، یخ مالک، توپ بازی، کریکټ، والیبال، باسکتبال او نورو محلي لوبو بوخت ول.

ژمی په چټکې سره تېر شو او پسرلی ورسېد، د وري د میاشتې دریمه ورځ شوه، ښونځي پیل، ټول هلکان په مینه سره ښونځیو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښوونکې مینان په یوه ټولګي کې

..................................................................

روان شول، د هغې د ټولګي زده کونکي له لسم ټولګي نه یولسم ټولګي ته بریالي شوي ول.

د درس د پیل په لمړۍ ورځ هغه هم ښونځي ته حاضره شوې، ژمنۍ سترياېي تېره شوې او د زده کونکو له پاره یې ښه تیاری (چمتو والی) نیولی و.

په ټولکې کې ټول الکان څه یې د هیواد د بیلا بیلو ولایتو نو او ډېری یې د کابل ښار اوسېدونکي ول، دوي ټول د نوي ځوان شوي او شپاړلسو نه تر شلو کلونو پورې عمر لرونکي ول.

په ټولګي کې دوې کسانو د ښونکې سره مینه پیدا شوه چې یو یې خورا ډنګر، اقتصادي روز ګاریې خراب، په ټولګي کې شاته پاتې (تنبل)، بې جراته، لیک او لوست یې هم ښه نه و زده او بل یې کوښښي، فعاله، ډنګر، با جرته او زیرک و.

دوی هیچا ته په دې اړه یعنې د خپلې مینې، همدا راز یو بل ته د ښونکې سره د مینه لرلو په هکله هم نه و ویلي.

وخت تېرېده او د دوي مینه به له ښونکې سره زیاتېده، په دوي کې د یوه الک مینه تر بله ډیره وه او ورځ تل بلې به د ښونکې په سوچ (فکر) و، د خپل مضمون یعنې د انګرېزۍ ژبې په وخت کې د ښونکې مخ او سترګو ته کتل، د هغې له خوږې ژبې به یې خوند اخیست او په سوچ کې ډوبېده.

ده به کله نا کله د تفریح په وخت ښونکې به یې ځارله او کوښښ به یې کاوه چې حتما هغه و ویني (وګوري)، او کله به یې هغې ته سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.................................................................

واچاوه، ځينو انګرېزيو لغتونو مانا به يې ترې پوښتنه کوله، هغې به په خوشحالۍ سره ځوابونه ويل او سوچ يې کاوه چې څومره خواريکښ زده کونکی دی چه په تفريح کې هم پوښتنې کوي او د هغې د مضمون سره خورا مينه لري.

ښونکې به هم هغه ته ځينې آسانه د انګرېزۍ ژبې کتابونه او مجلې ورکولې چې د هغه سره د ژبې په يادولو کې مرسته وکړئ، مګر هغه منفی سوچ کاوه او په زړه کې يې ګرځېده چې، هغه هم ورسره مينه لري که نه ولې يوازې هغه ته د کتابونو او مجلو مرسته او لارښونه کوي.

په دې ټولګي کې څو ځيرک زده کونکي هم ول چې د يوه مين نوم يې زړګی و، پوه شوي ول او سوچ يې کاوه چې هغه په ريښتيا په ښونکې مين دی.

د هغه مخ رنګ به ورځ تر بلې ژېړېده او په سوچ کې ډوبېده، د هغه د مينې نه ښونکې نه پوهېده ځکه له يوې خوا ښونکې چی دنده يې درس ورکول، د زده کونکو پوهاوی او له بلې خوا تر ټولو زده کونکو مشره وه، نه يې هم د زده کونکو سره د مينې او خصوصي اړيکو کوم پلان او نه يې سوچ کاوه.

ډېره ساده او د ښونکو په يونيفورم او حجاب کې ښونځي ته راتله او د رخصتېدو وروسته به بېرته کورته تله، څو خوررڼې يې هم درلودې چې د تفريح په وخت کې يې د ښوونکو خونو کې چای څښه او د درس په پيلېدو به خپل ټولګي ته د درس ورکولو له پاره تله.

څو مياشتې تېرې شوې، د زړګي مينه زياتېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.......................................................................

لږ، لږ یې سوچ بل او د خپل سر او ځان پاکوالی یې هم ضعیف او ورته یې چندان پام نه کاوه، د نورو ملګرو جلا شو او ځانته به ګرځېده، ځینو ټولګیوالو به یې سوچ کاوه چې کیدای شي پرکومې جلی، په کوڅه، سړک او یا هم د کوم ګاونډي پر لور یا خور مین وي، مګر څو ځیرکو زده کونکو سوچ کاوه چې هغه د خپلې انګرېزی ژبې پر ښونکې مین دی.

دغو زیرکو زده کونکو به هغه زو راوه او د دروغو به یې زړګي ته ویل:
پوهېږې زړګیه!

کومه ورځ چې ته ښونخي ته نه راځې، ښونکې ستا پوښتنه کوي او وایي چې زړګی ولې نه ده راغلی؟

بیا مونږ ورته وایو:
لږ ناروغه و.

هغه بیا تاته د روغېدو دعا کوي.

او کله چې تا و ویني، ستا نه پوښتنه کوي چې:

څه تکلیف دې، درلود؟

کوم ځای دې، درد کوي؟

اوس، څنګه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

.......................................................................

بيا زړګې سوچ کوي.

په رښتيا چې هغه له ما سره مينه لري، کوښښ به يې کاوه چې ښونکې ته و وايي:
زه له تا سره مينه لرم.

مګر ډېر به وېرېده او په زړه کې يې ويل:
کېدای شي د ټولګيوالو خبره نا سمه (غلطه) وي او هسي ښونکې له ما خپه کړي.

يوه ورځ زړګی خورا ستړی او ستوانه ټولګي ته ننوت، بيا ټولګيوالو يې پرې وخندل، کوښښ يې وکړ چې هغه و زوروي (و ربړي) بيا هغه پر ټولو ټولګيوالو په غوصه شو او هغوي ته يې و ويل:

زه تاسو ته دلته څه نه وايم، زه به تاسو ته دروښيم چې زه څوک او څومره ځواک لرم.
ټولګي والو به پرې مسخرې کولې او هغه به زغملې، تر څو چې د رخصتۍ وخت شو، الکان د ټولګيو نه و وتل او مخ په کورونو روان شول.

ځينې نا منوني (شوخ) الکان سره راټول اوهغه ته په لاره کې ودرېدل، تر څو زړګي راشی.
زړګې ورسېد، څو الکانو پر هغه يرغل وکړ او د هرې خوانه پرې ګذارونه پيل شول، هغه يې په منځ کې راګير کړی و، د هغه څخه يې د وز غاړي خوسکې جوړ، خورا يې و واهه او ويې ډبا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
.................................................................................

په دې وخت کې څو پولیس پر لاره تېرېدل چې د هغوي اخ او ډب ته یې پام شو، هغوی ور نږدې شول او الکانو پر تېښته پیل او له ځایه یې، ځانونه وژغورل.

پولیسو هغه یې را پورته کړ، پطلون یې ور و څانده، د پوزې وینې یې د تشناب پر کاغذ پاکه کړه او دهغه نه یې پوشتنه وکړه:
هغوی څوک او ولې یې و وهلې؟

هغه په ځواب کې و ویل:

هغوی زما ټولګیوال دي او په ټولګي کې یې پر ما ملنډې وهلې، ما هم هغوی ته و ویل:
دلته ټولګې او ښونځی دی، زه تاسو سره د ښونځي نه د باندې کار لرم.

کوم وخت چې له ښونځي څخه را و وتلم دوی پر ما یرغل وکړ او زه یې داسې ټپي او زب زب کړم.

بیا پولیسو د زړګي نه د هغه د ښونځي ادرس واخیست او و یې ویل:

مونږ به سبا، ستاسو ښونځي ته راشو، د ښونځي د مدیر او نورو مسولینو سره به په دې هکله خبری وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

.......................................................................

د هغو الکانو د نومونو ليست به واخلو او د هغوی کورنۍ به هم و غواړو، همدا راز به د هغوی نه زمانت هم واخلو تر څو داسي مسايل بيا تکرار نه شي.

زړګې خوشحاله شو او ويې ويل:
تاسو نه ډېره مننه!

پوليس خپلې حوزې او زړګی خپل کور خوا روان شو.

هغه يې ډېر و هلی و او ورو، ورو په لاره کي ته، نيمه ګړي وروسته خپل کور ته ورسېد.

کورته د ننه شو او خپلې جامې يې بدلې کړې، بيا يې واسيلين واخيست او خپل هغه ځايونه يې پرې غوړ کړل چي ژوبل شوي ول.

د شپې ډوډۍ خوړو نه وروسته خپل خوب ځای ته لاړ، پر توشکه پرېوت او له ځانه سره يې سوچونه پيل کړل، ټوک، ټوک و او ټول اندامونه يې په درد ول.

هغه بيا پاڅېد، مخ په الماری روان شو او د کور د داروګانو (دوا) کڅوړه يې ولټوله او پراسيتامول (د درد ضد) تابليټ پاکټ يې پېدا، يوه ګولی يې ترې واخيسته او د تريخ چای سره يې و څښه، درد يې لږ ارامه شو، دوې ګړۍ وروسته پرې خوب راغی او بيده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.........................................................................

سهار وختي له ځایه پاڅېد او د اوداسه نه وروسته مخ پر جومات روان شو، لمونځ يې په جمعې سره ادا بیا بېرته کور لورې (خوا) روان شو.

کور ته د ننه، بیا يې د سهار چای و څښنه، یوه ګولۍ يې هم خولې ته واچوله او له ستوني يې تېره کړه، بیا يې جامې بدلې او د کتابونو کڅوړه (بیک) يې شاته واچاوه او ښونځي خواته روان شو.

زړګی ښونځي ته ورسېد، د ننه شو، بیا خپل ټولګي ته لاړ او پر خپلې څوکۍ کیناست.

الکان یو، یو ټولګي ته د ننه کېدل او پر خپلو ځایونو کیناستل، تر څو ټول پوره شول، د کیمیا مضمون ښونکی راغی او پر درس يې پیل کړ.

بیا د دوهم مضمون ښونکې، بیا دریم او ورپسې د څو دکیکو له پاره تفریح اعلان شوه.

په دې وخت کې هر چا کوښښ کاوه چی خپلې خوښې اړتیاوي پوره ، اوبه وڅښي، کانټین ته لاړ او څه وپېري.

په دي وخت کي پروني پولیس ورسېدل، د ښونځي اداري ته ننوتل، د ښونځي د مدیر سره يې خبرې وکړې، بیا د ښونځي مدیر زړګی و غوښت او د هغه نه د پروني یرغلګرو ټولګیوالو نومنو، پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

........................................................................

زړګي هم مدير ته د پروني ټولګيوالو يرغلګرو نومونو ليست وړاندی کړ.

څو دکيکی وروسته مديرهغه الکان اداري ته وغوښتل او پوليسو ورته و ويل:

تاسو پرون زړګی وهلی او هغه مو ډېر ژوبل کړی دی، سبا خپل پلارونه اداري ته حاضر کړئ چي له هغونه ضمانت واخلو تر څو تاسو داسې عمل تکرار نه کړئ.

بيا د اداري مدير و ويل:
الکانو!
اوس تاسو کولای شئ، بيرته ټولګي ته لاړ شئ.

بيا يې زړګي ته و ويل:
ته هم کولای شئ، ټولګي ته لاړ شئ.

زړګی هم د اداري نه و وت او ټولګي ته روان شو، کوم وخت چې ټولګي ته د ننه شو، څو الکانو هغه ته و ويل:
د رخصتۍ وخت کې مونږ تا سره کار لرو.
زړګي څه و نه ويل او پر خپلې څوکۍ کېناست.

بيا ښونکي پر زده کونکو غږ کړ:
څه خبره؟
ولې زړګي ته په غصه ياست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

.....................................................................

زده کونکو و ويل:
هيڅ!

مونږ هسې ټوکې کولې.

درسي ګړۍ ختمې او زده کونکو په وتلو پيل کړ.

زړګی هم خپل کتابونه او کتابچې ټولې، په کڅوړه کې يې کېښودې او له ځايه پاڅېد.

خپله کڅوړه يې شاته واچوله او د ټولګي نه و وت.

هغه د ښونځي عمومي دروازې پر مخ روان شو او بيا وروسته عمومی سړک ته وا وښت.

د سړک هغې غاړې ته څو زده کونکي د هغه انتظار کاوه، څرنګه چې زړګی دوی ته نږدې شو، يوه زده کونکی ور دمخه شو او وې ويل:
تا ولې زمونږ په هکله پوليسو او ادارې ته شکايت کړی دی؟
هغه و ويل:
ما خو شکايت نه ده کړی، تاسو پرون زه و وهلم، د وهلو په ترڅ کې پوليس راغلل او زه يې د ستاسو د وهلو څخه خلاص کړم، بيا هغوی زمانه د ښونځي ادرس واخيست او و يې ويل:
مونږ سبا تاسو ښونځي ته راځو او د ښونځي د ادارې مسولينو سره خبرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
.......................................................................

هغوی خپله د وعدې سره سم راغلل، د ښونځي د ادارې سره یې خبرې وکړې او زه یې هم و بللم، له ما نه یې پوښتنه وکړه چې: د هغو الکانو نومونه و وایاست؟

ما هم د ستاسو نومونه د ادارې مسول ته و رکړ.
بیا هغه زده کونکې و ویل:
سبا به ادارې ته ځې اوخپل شکایت به بېرته اخلې.

هغه بیا زیاته کړه او ویې ویل:
ما خو تاسو ته و ویل؛
ما کوم شکایت نه ده کړی، بیا ولې دومره یادونه کوې؟

زده کونکي و ویل:
زه په نورو نه پوهېږم، که دا کار دې و نه کړ مونږ به در سره خبرې وکړو او غابښونه به دې مات کړو.

زړګی څه و نه ویل:
او کور خوا ته روان شو.
سهار وختي ښونځي ته راغی او خپل ټولګي خواته روان شو، ټولګي ته ننوت او پر خپل ځای کیناست.
د انګریزۍ ژبې کتاب یې خلاص او پر مطالعه یې پیل کړ، دا ځکه چې لمړی درس یې د انګریزۍ ژبې و.

الکان ورو، ورو ټولګي ته ننوتل او ټولګی ډک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.......................................................................

لږ وروسته د انګریزی ژبې ښونکې راغله، د ټولګي کپتان غږ کړ:
ولاړ سئ!

ټول الکان د خپلو ځایونو نه پاڅېدل او ودرېدل.
بیا وروسته ښونکې و ویل:

کښینئ!

بیا یې سترګې په زړګي و لږېدي او ویې ویل:

آفرین!

تا تر ټولو د مخه د انګرېزی ژبې کتاب خلاص کړی او حتما دې و
یلې دی؟

زړګي ځواب ورکړ:

هو!

ما خپل سبقونه په کور کې ویلي دي، او د ټولو نه د مخه راغلی وم،
بیا مې دلته تکرار کړل.
ښونکې و ویل:
ډیر ښه!

بیا پرونی درس و وایه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د ځای نه را پاڅېد او د تېر لوست په لوستلو يې پيل کړ.

زرګی تير درس ښه ياد کړی و، ښونکې ورته و ويل:

آفرين!

ته تل کوښښ او زيار باسې چې خپل درسونه ولولې او کورنۍ دنده هم په خپل ټاکلي وخت اجرا کړې.

بيا يې ورته و ويل:

کښينه!

زرګی پر خپل ځای کيناست.

ښونکې د نورو زده کونکو نه تپوسونه پيل کړل، دا کار څو دکيکې دوام وکړ، بيا وروسته يې نوی لوست پيل کړ.

د نوي لوست په پای کې ښونکې ټولو ته د کورنۍ دندې سپارښتنه وکړه او ويې ويل:
سبا بيا تاسو په دريمې ګړۍ کې درس لرئ، خپلې کورنۍ دندې تر سره او سبا ته يې له ځانه سره راوړئ.

بيا يې زده کونکو ته و ويل:
و ګورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
......................................................................

زرګی څومره کوښښ او خپله کورنۍ دنده تر سره کوي، او تاسو باید د هغه نه زده کړئ.

زده کونکو څه و نه ویل، او ښونکې خدای پاماني واخیسته او د ټولګي نه د باندې، بل ټولګي ته د ننه شوه.

د تفریح و خت ورسېد.

زده کونکي له ټولګي نه و وتل او د ښونځي انګړ خواته روان شول.

زرګی هم له ځایه پاڅېد، خپل کتابونه یې په کڅوړه کې کېښودل او له ټولګي و وت.

هغه هم د خپل یو ملګري سره د ښونځي د انګړ په مخ روان شو، تر څو کانټین ته لاړ او څه خوراکي توکي وپېرئ.

څو قدمه یې نه ول اخیستي چې یو ټولګیوال یې رامخته شو او ویې ویل:
تا خپل شکایت بېرته واخیست او که نه؟
هغه و ویل:
کوم شکایت؟

ما خو کوم شکایت نه ده کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

.............................................................................

په دې وخت کې د زړګي ځو تنه ټولګيوال سره راټول او په زړګي يې ګذارونه پيل کړل، نور زده کونکي او ښونکي هم راټول شول او کوښښ يې پيل کړ تر ځو هغوي سره جلا کړي.

په دې وخت کي د انګرېزی ژبې ښونکې هم را ورسېده، ويې ليدل چې ځو کسه په زړګي وارونه کوي، هغې منډه کړه او الکانوته يې و ويل:
بس کړئ!

په دي وخت کې نارينه ښونکي هم را ورسېدل او دوی يې سره جلا کړل، ښونکو- هغه الکان کوم چې په زړګي يې ګذارنونه کړی ول، له لاسه و نيول او بيا يې د ښونځي ادارې ته بوتلل.

د ښونځي مدير، د الکانو پلارونو ته زنګ و وهه، ويې غوښتل چې هرو مرو به ادارې ته راځي او د خپل د اولادونو په مخ کې به خبرې پيل کړو، ځکه چې هغوی د ښونځي د ادارې نظم له مينځه وړی دی او که چېرې هغوی يې مخ نيوی و نکړي، ډير مالي او ځاني ستونځې به را مينځ ته کړي.

دوې ساعته وروسته د زده کونکو پلارونه ورسېدل او د ښونځي په اداره کې مجلس پيل شو.

خبری اتری دوام درلود، پوليس بيا راغلل او د ښونځي د ادارې دروازې مخې ته ودرېدل، دروازه يې وټکوله او بيا وروسته ادارې ته د ننه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.....................................................................

پولیسو له ځان سره د څو زده کونکو، د هغوی د  پلارونو د جلب استعلام راوړی او کاپي یې اداري ته وسپاره او هغوي ته یې و ویل: ښه شو چې تاسو مې دلته ولیدلئ، د پولیسو موټر د ښونځي تر عمومي دروازې څنګ (شاته) ولاړ دی، راځی چې حوزې ته لاړ شو.

د پولیسو افسر دمخه شو، د زده کونکو پلارونه او زده کونکي ورپسې شول، ټول د ښونځي څخه و وتل، بیا په موټر کې کیناستل او حوزې خوا ته روان شول.

زړګی له یوې خوا ډیر خپه و او سوچ یې کاوه چې د دغو ټولګیوالو سره به څه کوی؟

بیا هغه په سوچ کې ډوب او سوچ یې وکړ چې زده کونکي رښتیا وایې، هغه ښونکې له ما سره مینه لري او که نه، هغه له کوم ځایه پیدا او زما ننګه (لنګه) یې وکړه، بیا خوشحاله شو، له ځانه سره یې وخندل او ویې ویل:

که هغې له ما سره مینه نه درلودی، نو بیا څرنګه یو دمیلکه پېرۍ پیدا او زما ننګه یې وکړه.

خو خلک هم رښتیا وایې، هرو مرو پر ما مینه ده، کله چې نه راځم زما پوښتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

....................................................................

په ټولګي کې یو نامنونی (شوخ) الک و، هغه هم د ښونکې سره مینه درلوده او تل به یې کوښښ کاوه تر څو زړګی د هغې په پام کې بد ، نا کاره زده کونکې معرفي کړي او د هغې پام ځان ته وګرځوي.
خو!
ښونکې نه پوهېده چې د هغې زده کونکي پرې مینان دي او یو دوه یې هغې پسې لیوني شوی دي.

څو ورځې تېرې شوې، د هغو الکانو پلارونو نه یې په حوزی کې زمانت لیکونه واخیستل او الکانو ته اخطارې ورکړې چې د تکرار په صورت کې به یې له دې ښونځي نه یو لرې بل ښونځي ته جبري سه پارچه کړي، د کوم خلاف کار تر سره کولو او یا هم زړګي ته د لاره نیولو، وهلو، ښکنځل کولو، تهدیدولو په صورت کې ښکیل زده کونکو ته به کلکه سزا ورکړ شئ.

د زړګي ټولګیوال په ښکاره یې څه نه ویل ولې په زړه کې زړګي ته ډیر په غوسه ول او کوښښ به یې کاوه چې زړګی د ښونځي نه د باندې و وهي.

زړګی هم د ټولګیوالو په پلانو پوه شو، د ځانه سره یې پریکړه وکړه چې یواځې به نه ګرځي او له ځانه سره به څو کسه لکه ځان ساتونکي و ګرځوي، دا موضوع یې د کلی ملا امام او مشرانو سره شریکه کړه، هغوی په خپلو منځو کي سره غونډه او داسې فیصله یې وکړه:
هره ورځ باید د زړګي سره څلور تکړه ځوانان تر ښونځي لاړ شي او هغوی چیرته نږدې د ښونځي سره کېني او د زړګي تر راتګ پورې انتظار وکړئ، بیا دې هغه تر کوره ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښوونکې مینان په یوه ټولګي کې
......................................................................

دا پرېکړه ټولوته د منلو وړ وګرځېده او سر له سبا يې د عملي کولو امر(دستور) ور کړ.

سبا شو او د لمړی ورځې نه ځوانانو د زړګي سره د تګ لاره و نیوه او هغوی له ځانه سره سړه وسله هم اخیستې وه، هغوی زړګي ته و ويل:
د مخه شه او مونږ به در پسې ورو، ورو روان شو، ته له مونږ سره خبرې مه کوه تر څو، څوک پوه نه شي چې مونږ د تا سره یو، او که چېرې چا دربانډی وار(ګذار) وکړ، مونږ به ستا مرستې ته و دانګو.

زړګي دا خبره ومنله، مخکې روان او ځلمیان يې تر څټ څو قدمه وروسته روان شول. لاره اوږده وه او زړګي به کله، کله څټ ته کتل چې ځلمیان ور پسې دي که نه؟

و به يې لیدل چې ورپسې دي، بیا به خوشحاله شو.

زړګی ښونځي ته نږدې شو او په لاره کې هغه ته ټولګیوال ناست ول، د هغه په نږدې کېدو يې پر هغه برید وکړ، په دې وخت کې ځلمیانو د هغه مرستې ته ودانګل او د هغه پر ټولګیوالو يې ګذارونه پیل کړل.

نښته سخته او سختېده، ډیری زده کونکو په کې وهل او ټکول وخواړه، یو څو زده کونکو د نښتی له ډګر نه تېښته وکړه او ځانونه يې ښونځي ته ورسول، د موضوع په هکله يې د ښونځي مشر(مدیر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
.......................................................................

ته خبر ورکړ، مدیر هم سم دلاسه نږدې پولیسو تانې ته خبر ورکړ، او د دروازې پولیس هم د ښنټې ډګر خوا ته منډې کړې.

د دروازې پولیسو زور پر هغوی ونه رسېد، بیا یې هوایي ډزې پیل کړې، په همدې وخت کې نور پولیس هم ورسېدل او ټول یې کلا بند کړل، بیا یې د یو، یو لاسونه ترڅټ (شا) تړل او موټرو ته یې جګول (خېژول)، زده کونکي یې د پولیسو پیکپو موټرو څټ کې کینول تر څو ټول یې ونیول او ډک، ډک موټرو سره مخ پر حوزې یې حرکت وکړ.

هغوی حوزې ته ورسېدل او ټول یې د حوزې د آمر کاري خونې ته د ننه کړل، په دې وخت کې د حوزې آمر د جنایې پېښو آمر یې و غوښت او هغه ته یې سپارښتنه وکړه تر څو د هغوی پخوانۍ دوسې راوړي او د نویو کسانو نه خپلې څېړنې (تحقیقات) پیل کړي.

په دې وخت کې به ډول، ډول زنګونه د حوزې آمر ټیلفون ته راتلل او هغه حیران پاتې و چې د چانه دفاع او پر چا قانون تطبیق کړي.
ټولوته به یې ښه، ویل او بیا به یې زیاتوله چې:
په سترګو!

حتما!

زه کوښښ کوم!

او داسې نور ځوابونه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

..................................................................

د جنايي آمر خپلې څېړنې پيل کړې او تر درې ورځو څېړونو وروسته يې و مونده چې د پېښې اصلي لامل (عامل) د زړګي او دهغه د بل ټولګيوال مينېدل د انګرېزۍ ژبې په ښونکې ده، کومه چې د ځانه نا خبره (بي خبره) وه.

څېړنې پای ته ورسېدي او نتيجه يې د حوزې آمر او د ښونځي مدير سره شريکه کړه، له مديره يې و غوښتل تر څو دا موضوع د پوهنې (معارف) اړوند مسولينو سره شريکه کړي.

بيا يې ټول کسان د ضمانت په وړاندې کولو سره له حوزی نه خوشې او د هغوی نه يې ليکونه واخيستل، تر څو دا ډول سر غړونې ونه کړی.

که نه نو، بيا ټول د درې مياشتو له پاره بنديان شئ.

الکانو و منله، د حوزی څخه د باندې او خپلو کورونو ته روان شول.

څو ورځې تېرې شوې او د زړګی د مينتوب آوازه مخ په خپرېدو شوه، د يولسم ټولګي زده کونکي پوه شول چې رښتيا (حقيقت) چېرته دی.

د پوهنې (معارف) وزارت پرېکړې سره ډېری زده کونکي کوم چې په جګړه کې ښکيل ول له ښونځي څخه بل ښونځي ته سه پارچه (جبري تبديله) شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

.........................................................................

زړګی هم د دوې اونيو له پاره ښونځي ته، له شرمه او ډاره را نه غی، بيا د هغه ټولګيوال ورپسې کورته لاړل او هغه ته يې قناعت ورکړ چې ښونځي ته راشي.

هغه بيا په سبا ښونځي ته راغی او په خپلو درسونو يې پيل کړ.

يوه ورځ الکانو زړګي ته و ويل:
مونږ پوهيږو چې ته پر ښونکې مين يې، ښه به دا وي چې مونږ د هغې کور ته رايباري ته لاړ شو او تا ته يې رسمي و غواړو.

هغه په خندا شو او ويې ويل:
زه نه پوهيږم چې په رښتيا هغه پر ما مينه ده او که تاسو له ما سره ټوکې کوې؟

ټولګيوالو يې و ويل:
هو!

مونږ ريښتيا وايو، څرنګه چې ته پر هغې مين يې، داسې هغه هم پر تا مينه ده.

بيا ټولګيوالو يې و ويل:
لمړی ته هغې ته و وايه چې زه په تا مين يم.

وګوره چې هغه هم داسې درته وايي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
......................................................................

هغه ومنله او ملګرو ته یې و ویل:
زه حتما هغې ته وایم.

دوي ورځې تېرې شوې او هغه دا جرات ونه کړ چې هغې ته د خپل زړه حالت بیان کړي.

بیا کله چې ټولګي ته راغی، ملګرو یې ورنه پوښتنه وکړه:
تا هغې ته د خپل زړه حال و ویل:
هغه و ویل:
ما ډیر کوښښ وکړ چې هغې ته و وایم، مګر و نه توانېدم چې هغې ته یې و وایم.
بیا ټولګیوالو پر هغه وخندل او ویې ویل:
ته بلا وهلی یې.

دا څرنګه مینه ده، ته له هغې او هغه له تا سره مینه لري نو ولې ډېر وېرېږې؟

هغه و ویل:
آسانه کار نه دی؛

بیا هغه زما ښونکې ده.
زه خورا بې وسه یم او په کور کې هم څه نه لرم، کېدای شي هغه یې ونه مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

........................................................................

ټولګيوالو بيا په هغه و خندل، د هغه رنګ تک سور واوښت او خورا وشرمېد.

څه وخت تېر شو او ښونکې هم و پوهېده چې زرګی پر هغې مين دی، هغې په خپل درسي ميتود، سيستم کې څه بدلون راوست او په جديت به يې د زده کونکو سره چلند کاوه.

زرګی هم پوه شوه چې ښونکې ورسره مينه نه لري او هسې ټولګيوالو د هغې او زرګي په اړيکې (رابطې) کې رول لوبولی دی، هغه د زرګي په کيسه کې نه وه.

زرګی دولسم ټولګي ته بريالی شو، او ښونکې هم د يو بل ښونکي سره مزی (تار) و زغلاو (لاره و نيوه) کوم چې له بهره راغلی و، هغوي به د يو بل سره ليدل او کيسې به يې کولې.

هغوی د يو بل سره مينه پيدا کړه او ليده کاته يې هم خورا ډير شول، د دوی دواړو ښونکو راز هم د نورو ښونکو تر غوږو ورسيد، حتی دا چې پرهغوی د ديپارټمنټ آمر، سر ښونکی او نور پوه شول.

خبره رسوا، ټول زده کونکي پرې پوه شول او د هغوی د مينې کيسه به هرې خوا کېده، تر څو چې سر ښونکي پرېکړه وکړه چې هغې ته و وايې، څو د دی ښونځي نه بل ښونځي ته ځان تبديله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
.........................................................................

ښونکې د څو ورځو له پاره ښونځي ته را نه غله او په دې وخت کې یې کوښښ کاوه چې ځان د شته (موجوده) ښونځي نه بل ښونځي ته تبدیله (بدله) کړي.

څو ورځې تېرې شوې او هغه وتوانېده چې له دې ښونځي نه بل زنانه ښونځي (د نجونو ښونځي) ته ځان تبدیله کړي.

بیا هغه وختي ښونځي ته لاړه او د ښونځي مدیر خونې ته د ننه شوه، وخت ډېر و او د ښونځي مدیر هم نه و راغلې .

د ښونځي صفا کار هغې ته بلنه ورکړه تر څو پر څوکۍ کېني، هغه پر څوکۍ کېناسته او بیا صفا کار ور ته د ترموز نه تود چاي په پیاله کې واچاوه، بیا یې ورته خوږه هم وړاندې او ویې ویل:
دا دی!

خوږه هم لرو.

بیا هغې د تود چای پیاله واخیسته او د چای په څښلو یې پیل کړ، څو غړپه یې څښلی و چې د ښونځي مدیر هم را ورسېد.

هغه د ځایه پورته شوه او مدیر سره یې ستړي مشې وکړه.
بیا مدیر و پوښتل:
خیریت و؟

څو ورځي را نه غلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې

.....................................................................

هغې و ويل:
تاسو پوهېږی چې د نجونو له پاره درس ورکول د الکانو په ښونځي کې خورا ستوزمن کار دی او هغه هم په لسم، يولسم او دولسم ټولګيو کې چې الکان يې خورا ځوانان دي.

بيا مدير ورته و ويل:
زه د ستا سره څه مرسته کولای شم؟

هغې و ويل:
مننه کوم.

فقط غواړم چې زما سره په تبديلۍ کې مرسته وکړئ.

هغې د ښونځي مدير ته ټول اسناد وړاندې کړل .
مدير هم ټول اسناد په زير سره ولوستل او په پای کې د هغې سره موافقه وکړه.

د هغې ټول اسناد يې امضا، وروسته يې ټاپه هم کړل بيا يې اداري مدير وغوښت او ورته يې و ويل:
**هله !**

د ښونکې مکتوب وليکه**!**

ما ته يې د امضا له پاره راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
.....................................................................

مدیر هغې ته د نورو چای څښلو وړاندیز وکړ او صفا کار ته یې و ویل:
ښونکې ته نور چای هم واچوه!

تر څو چې اداري مدیر راځی، هغه خپله ستومانتیا لرې کړي.

صفا کار ښونکې ته چای واچوه او هغې هم مننه وکړه.

څو دکیکې وروسته اداري مدیر مکتوب راوړ او د ښونځې مدیر ته یې وړاندې کړ، له امضا نه وروسته یې ټاپه او اداري مدیر ته یې و ویل:
دا دی!

مکتوب په پاکټ کې واچوه، سر یې سریښ او بیا یې راوړه چې پرې ټاپه و وهم.

د ښونځي مدیر پاکټ ټاپه او ښونکې ته یې وسپاره.

ښونکې له ځایه پاڅېده او له مدیر نه یې منه او بیا خدای پاماني واخیسته.

مدیر هم هغې ته و ویل:
په مخه دې ښه!

الله دي تل خوشحاله لره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چېرې چې خوشحاله یې، زه هم خوشحاله یم!

ډوډۍ دې تل ګرمه (توده) او اوبه دې تل سړې اوسه!

په مخه دې ګلونه!

بیا هغې په مدیریت کې د ناست ښونکو او بیا وروسته د صفا کار نه خدای پاماني واخیسته او د انګرېزۍ ژبې دیپارتمنټ ته د ننه او شته ښونکو نه خدای پاماني واخیسته،له دیپارتمنټ نه و وته او د ښونځي لوې دروازې خواته روانه شوه، په دې وخت کې یوې خوږړنې یې
پرې غږ او ویې ویل:
له خیره؟
هغې و ویل:
خدای پامانۍ ته راغلې وم.
خوږړنې یې و ویل:

د څه شي خدای پاماني؟

ښونکې و ویل:
بس دی!

په شرمو یې وشرمولم.

د زده کونکو مینه د ښونکې سره، هیچاه ته د منلو وړ نه ده.
ټول را باندې ملنډی وهې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر چاه په خوله کې یې واچولم.

بیا خورزنې یې و ویل:
اوس څه کوې؟

هغې و ویل:
ما د نجونو ښونځي څخه تړون (موافقه) اخیستې ده، دا دی د دې ښونځي نه مې مکتوب هم واخیست، لمړی کورته ځم، بیا سبا به نوي ښونځي ته لاړه شم.

خورزنې یې و ویل:
هر چیرې چې ځې، مخې ته دې ښه.

ما له یاده و نه باسې!

کله کله راځه، کیسې به سره کوو.

هغې و ویل:
سمه ده!
که چېرې وخت ولرم او یا هم وخت پیدا کړم.

بیا یې د خورزنې سره خدای پاماني واخیسته او د ښونځي له دروازې و وته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې
..................................................................

څټ (شا) ته يې وکتل، ګوري چې زړګی ولاړ دی او هغې په سې ګوري.

بيا يې مخ واړاو، او لارې ته يې دوام ورکړ.

کورته ورسېده.

خورا ستړې او ستومانه وه.

خپل کالي يې بدله، مخ، لاس يې پريمنځه، بيايې وچ او د حمامه و وته.

کوچنۍ خور ته يې غږ او ويې ويل:
زه ډيره ستړې شوې يم.
د چای ترموز او زما ګيلاس دلته راوړه چې څو پيالې چای و څښم.

خور يې پاڅېده تر څو چای راوړي.

بيا ښونکې پرې غږ کړ:
خوږه دې له ياده و نه وځي؟

هغې و ويل:
سمه ده!

خوږه به هم، راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو دکيکی تېرې شوې.

خور يې د چای ترموز، پياله او په غاب کې لږ خوږه هم راوړه، بيا يې ښونکې ته و ويل:
چاي درته په پياله کې واچوم (توی کړم)؟

هغې و ويل:
مننه کوم.

دلته يې کېږده، زه يې په خپله اچوم.

هغې د چای ترموز د ښونکې تر څنګ کېښود او خپله يې بېرته پخلنځي کوټې ته لاړه.
ښونکې د چای ترموز واخيست او ځان ته يې چای په پياله کې واچاوه.

د غاب نه يې ګړه (ګوړه) واخيسته او خولې ته يې واچوله، بيا يې چای په سې غړپ کړ.

هغې ته چای ډير خوند ورکړ.

او څو پيالې چای يې و څښه.

بيا يې تلويزيون روښانه او د خپلې په زړه پورې برنامې (پروګرام) چاينل يې ونيو(پرسېره کړ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.........................................................................

د پروګرام په لیدو یې پیل کړ.

د پخلی پروګرام و.

هغې په ځیر سره پروګرام کا ته.

بیا یې خپله کتابچه او کلم (قلم) واخیست او د مهمو ټکو په لیکلو یې پیل کړ.

د غرمې وخت شو.

خور یې ورته غږ او ویې ویل:
د غرمې ډوډۍ تیاره (چمتو) ده.

ښونکې و ویل:
ته ډوډۍ وباسه او پر دسترخوان یې کېږده، زه راځم.

څو دکیکې تېرې شوې.

خور یې بیا غږ کړ:
څه شوې؟

ډوډۍ سړېږي.

هغې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ده!

راغلم.

ښونکې د ډوډۍ خونې ته لاړه او د دستر خوان خواته کیناسته او پر ډوډۍ خوړلو یې پیل کړ.

ډوډۍ  یې وخوړه او بیا یې کوښنۍ خور ته و ویل:
د چای ترموز را نږدې کړه!

هغې د چای ترموز نږدې کړ.

بیا یې و ویل:
زما پیاله چېرې ده؟

هغې و ویل:
لږ صبر شه !
راوړم یې.

بیا هغې د چای پیاله ومینځه او  هغې ته یې راوړه.

ښونکې په پیاله کې چای واچاوه او ویې څښه.

بیا له خونې و وته او خپلې خوب خونې ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیلفون یې واخیست او خپلې خورڼې ته یې زنګ و واه.

الو!

الو!

هغې ځواب ورکړ او ویې ویل:
سلام وعلیکم.

بیا ښونکې و ویل:
وعلیکم سلام؛

له هغې یې و پوښتل په ښونځي کې څه کیسې دي؟
هغې و ویل:
خیر او خیریت دی.

بیا یې نورې کیسې پیل کړې او پوره یوه ګړۍ په ټیلفون کې سره و غږېدل.

ورسته یې خدای پامانی واخیسته او ټیلفون یې بند کړ.

بیا یې بالښت سر ته کېښود، خپل ټیکری یې پر ځان اوار او وروسته بیده شوه.

هغه په خوب کې ډوبه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.......................................................................

خوب یې ولید چې زړګي د هغې کور ته رایباران لېږلی دي، د هغې مور او پلار غواړی چه د زړګي کورنی ته، دسمال ورکړي.

هغه په خوب کې غږ کوي:

نه!

نه!

ځه یې نه غواړم.

هغه زما زده کونکې دی.

هغه ډیر بې وزلی اوتر ما کشر هم دی.

هغه په ټولګي کې ډیرسست (تنبل) او خورا ډنګر دی.

د هیخ کسب او کار نه دی.

بیا مور یې ورته وایې:

هغه پر تا مین دی.

کیدای شي تا ښه وساتي!

ښونکې ورته و ویل:

زه هغه نه غواړم، زه د بل چا سره مینه لرم، هغه هم ښونکی او بډای دی.

بیا مور یې و ویل:

بله لار، نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ اړين يو چې ستا دسمال د هغه كورنۍ ته وركړو.

په دي وخت كې هغې په چيغو پيل كړ او و يې ويل:

كه چېرې زما دسمال د زړګي كورنۍ ته وركړئ، زه به ځان وژنه وكړم.

مو ريې د هغې كشري خور ته و ويل:

اله!

د خوږو دسمال راوړه.

خوريې د باندې شوه تر څو د خوږو دسمال راوړي.

ښونكې چيغه او منډه يې كړه چې خپله خور د دې كار نه منې (منع) كړي، هغه د كټ (چپركټ) نه وغورځېده.
ودربېده او خور په سې يې منډې كړي.

خور يې په دالان كې مخې ته راغله او هغه يې كلكه و نيوه.

هغې و پوښتل:

څه خبره ده؟

ښونكې و ويل:

دسمال مه ور وړه!

هغې و ويل:

كوم دسمال؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څه شي دسمال؟

ښونکې و ويل:

دخوړو دسمال!

بيا يې وپوښتل:

د څه شي د خوړو دسمال؟

ښونکې و ويل:

د کوژدې د خوړو دسمال.

خور يې پوه شوه چې خوب يې ليدلی دی.

بيايې ورته و ويل:

هيڅ خبره نه شته!

اله!

ژر حمام ته لاړه شه !

مخ او لاس دې پريمنځه.

ښونکې حمام ته د ننه شوه، مخ او لاس يې پرېمنځل او ځو دکيکې وروسته له حمامه را و وته.

خور يې ورته و ويل:

وه دې ليد، چه تا خوب ليدلې و.

هغه په خندا او ډيره خوشحاله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
.....................................................................

بیا خپلې خونې (کوټې) ته لاړه او تلویزیون یې روښانه (چالانه) کړ.

او د یوه فلم په لیدو یې پیل کړ.

بیا یې چاینل بدل او دیوی انګریزی ژبې محاوره درس یې پیداکړ او پر هغه یې سترګې ښخې کړی.

بیا یې کتابچه را واخیسته او د مهمو ټکیو(لغتو) او جملو په لیکلو کې بوخته شوه.

یو ساعت وروسته یې کوشنی ورور له ښونځي څخه راغی او د خپلی خور خونې (کوټې) ته د ننه شو.

هغې ته یې سلام واچاوه.

هغې سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا ښونکې خپل ورور ته و ویل:

ژر شه!

حمام ته لاړ شه، خپل مخ، لاس او پښې دې پرېمینځه، بیا راشه.

د هغې ورور ومنله او حمام ته لاړ.

لږ وروسته بېرته راغی او د ښونکې خونې (کوټې) ته دننه شو.

ښونکې و ویل:

څه ستونزه لرې؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سره د انګرېزی ژبې په کورنۍ دنده کې مرسته کولای شئ؟

هغې و ویل:

هو!

ولې نه!

وړاندې شه!

څه ستونځه ده؟

هغه ور نږدې شو او خپل کتاب یې خلاص کړ.

ښونکې و ویل:

د انګرېزی ژبې کتابچه دې خلاصه کړه!

هغه کتابچه خلاصه کړه او ښونکې و ویل:

لمړی به دټکیو(لغتونو) مانا ولیکو، بیا وروسته به هغه په مناسبو انګرېزي جملو کې وکارو (استعمال کړو).

بیا یې هغه ته ویل:

زه درته وایم او ته یې په کتابچې کې ولیکه.

لمړی یې ټکي ( لغتونه) مانا کړل، بیا یې هغه په مناسبو جملو کې وکارول، په دې توګه د کورنۍ دنده یې سر ته ورسېده.

ښونکې و ویل:

کتابچه دې وتړه او په کڅوړه کې دې کېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ومنله.

بيا ښونکې و ويل:

اوس کتاب دې خلاص کړه چې د سبا ورځې درس هم درته زده کړم.

هغه خپل د نوي لوست چوپړی پرانيسته او ښونکې هم د خپل ورور سره په يادونه پيل کړ.

بيا يې په پاې کې له هغه نه پوښتنه وکړه؛

لوست دې زده کړ، که نه؟

هغه و ويل :

هو!

زده مې کړ.

بيا يې له هغه نه څو پوښتنې وکړې او هغه ورته سم ځوابونه و ويل.

په دې وخت کې د هغې ټيلفون ته، زنګ راغی.

ښونکې خپل ورور ته و ويل:

سمه ده!

ته کولای شئ، لاړ شئ.

ورور يې له خونې (کوټې) نه د باندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

......................................................................

هغه ټیلفون ته په ځواب ورکولو اخته شوه او ویې لید چې هماغه د پخواني ښونځي ښونکې دی.

ښونکي سلام ورکړ او ښونکې هغه ته وعلیکم و ویل، بیا یې د تبدیلۍ په اړه له هغې نه معلومات و غوښتل، هغې هم ټوله کیسه وکړه.

ښونکي هغې ته د لیدو او کاتو پیشنهاد وکړ او ویې ویل:

ما او تا به له یو بل سره ګورو او کله نا کله به رستورانت ته د ډوډۍ خوړولو له پاره ځو.

هغې و ویل:

نه!

اوس زما له پاره ستونزمنه او ګرانه ده چې له تا سره وګرځم، ځکه زما او ستا په اړیکو ټول پوه شوي دي.

هغه و ویل:

ما او تا به خپل کار کوو.

د خلکو خبرو په سې مه ګرځه!

هغې و ویل:

زما اوستا په مینه د پخواني ښونځي ټول ښونکي پوهېږي، او داسې سوچ کوم چې زما مور هم خبره شوې ده.

ښه لاره داده چې زمونږ کورته رایباران ولېږې.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې
..........................................................................

اوس وختې ده.

بیا څوکاله به سره وګرځو او له ژوند نه، خوښي (ګټه، لذت) یوسو.

هغه و ویل:

داسې اړیکې (روابط) په نورو لویدیزو هیوادنو کې هم شته، الک او جلۍ څوکاله سره ګرځي، ښه وخت تېروي که زړه یې شو بیا سره واده کوي او که نه، سره اړیکې پرېکوي بیا نو بل پیدا کوي.

ښونکې پوه شو چې د هغه هدف څو ورځې خوشحاله تېرول دي، هغه له اروپایې هیواده راغلی او تش په نامه افغان دی، خپل وخت ښه تېروي، بیا خپل هیواد ته ځي.

ښونکې هغه ته و ویل:

نه!

نوره نه غواړم چې تر دې هم بد نامه شم.

ښه به داوي چې واده وکړو او یا اړیکې سره پرېکړې کړو.

هغه و ویل:

په ټیلفون کې نه کیږي، راځه چې سبا په نوي ښار(شهر نو) کې سر وګورو او یو رستورانټ کې د غرمې ډوډۍ وخورو.

هغې و ویل:

زه تر دولس بجو په ښونځي کې یم.

ښونکې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.....................................................................

کومه ستونزه نه شته.

زه خپل موټر راوړم او ستا انتظار به ښونځي ته نږدې کوم.

بیا به یوځای رستورانټ ته لاړ شو، او هلته به خبرې اترې وکړو.

هغی ومنله.

سهار شو بیا دولس بجې شوې.

ښونکی د خپل نوي ماډل ګاډی (موټر) سره ښونځي ته نږدي د سړک غاړې ته ولاړ و.

په دې وخت کې ښونکې له ښونځي نه و وته.

ښونکی هغه ولیده او ښونکې ته یې د موټر د څراغ اشاره ورکړه.

هغه پوه او موټر ته وړاندې شوه.

بیا یې د موټر دروازه خلاصه او د مخې څوکۍ کې کیناسته، په دې وخت کې ډېری ښونکو هغه ولیده.

هغه د ښونکی سره د نوي ښار د مخه پلان شوي رستورانټ ته د ننه او یوې خاصې خونې ته لاړل.

د مینې کیسې پیل شوې او رنګارنګ (مختلف) خواړه کرښه (کتار یا قطار) شول.

هغوی په خوړو پیل کړ او ورو، ورو به ښونکی، ښونکې ته نږدې کېده، هغه خپل لاس د ښونکې تر غاړې چاپېر او د هغې مخ یې ښکل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې

.....................................................................

هغې د ښونکې لاس ټیلواهه او لرې یې کړ او خپله هم لږ لرې شوه.

هغه دا کار څو ځل (پلا) وکړ تر څو چې هغې په تنګ شوه او له هغه یې وغوښتل تر څو د خونې و وځي.

ښونکي ټینګار کاوه تر څو خپل ځان موږ کړي، مګر هغې دروازه خلاصه او په منډه د کوټې نه و وته.

تکسي موټر ته یې لاس ونیو، په هغه کې وخته او کورته لاړه.

ښونکي به هغې ته زنګونه وهل او ویل یې:

ګوره!

زه له تا سره مینه لرم.

بیا به واده وکړو.

کورنۍ به ولرو.

بیا به ماشومان ولرو.

هغې به ویل:

لمړی باید واده وکړو، بیا نورې خبرې.

هغه پوهېده چې ښونکی هغه غولوي او هسې خپل وخت تېروي.

ډېری ښونکو، ښونکي د دواړو ښونځیو له هغه بهر نه راغلی ښونکي سره لیدلې وه کوم چې روزګار یې ښه او ښکلی سور رنګ موټر یې درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې
.........................................................................

هغه ښکلې ښونکې چې الکان او ښونکي به پرې مينان کېدل، په بد نامۍ کې مشهوره شوه او هيچا نه غوښتل چې له هغې سره واده وکړي.

پنځه ويشت کاله تېر شول.

هغه اوس يو څلويښت کلنه ده.

د خپلې تېروتنې نه ډېره پښېمانه ده.
تر اوسه يې واده هم نه دی کړی او يوازی (واحده، مجرده) خپلې دندې او ژوند ته دوام ور کوي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شويو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتيد اانستيتوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد اول
٥. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصيل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقليم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاريه/ دنيای انجينری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقيقی با مقياس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاوير مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنيا نگذاری اولين مساجد توسط افغانها در آسترليا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه کړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٢. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٣. د ژرند ګړي ماما مینه
٤. سرغندوی (ناب، مشهور) پوړري
٥. لیونی لېوه
٦. بې زده کړې پوی
٧. شپنه ادې
٨. کوشنۍ سوداګره
٩. سپین کارغه
١٠. سور تنور
١١. خړه بیزو
١٢. بندي مرغه
١٣. توده برستن
١٤. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګې کې

.............................................................................

**د امکان او وخت په صورت کې**

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگليسی)
۲. تاريخ معماری افغانستان
۳. حويلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آينده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شيطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# The Teacher's Lovers In the Classroom

Written by:

Architect PHD

Hashmatullah Atmar

September / November - 2024

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library